مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیر محمد کاروان
۲۰۲۴/۰۳/۰۲

# خلک راته وايي چې کاروانه چنار څه معنا؟

ولې راته وايي چې لړ وار کوه وار څه معنا؟
کار د مینې کار دی له دې کاره انکار څه معنا؟

ووايه د ژوند د فلسفي شاګرده ووايه
سر په اوږو څه معنا او سر وي په دار څه معنا؟

خلک پکې خدای لټوي ته ماشوم خبر هم نه يې
لوی به شي او پوه به شي چې سترګې د يار څه معنا؟

ښايي چې له دې ښاغلي لويه ښکلا ورکه ده
دومره د ښکلا په لټون سترګې په لار څه معنا؟

لاس د ښکاري څه وايي او زړه د غرڅه څه وايي؟
غواړمه يوه معنا لالیه چې ښکار څه معنا؟

چوپ شمه که ووايم چې دنګه يار تا ښايم
خلک راته وايي چې کاروانه چنار څه معنا؟

پیر محمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ